آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۷/۱۳

# ما مه دربوله
# زه درتلای نه شمه

زه یخ وهلی غوریدای نه شمه

د تا په لوري زه درتلای نه شمه

د سمندر څنډې ته

عاشقانه منډې ته

دغې دنیا ته مه در بوله

زه در تلای نه شمه

زه یخ وهلی غوریدای نه شمه

زه له زګیرو نه ډک یم

او د تېپونو باران اوري پر ما

له درد او غم مالامال

دغه هر څه مې په هر ګام نه پرېږدي

هیڅ ځای آرام نه پرېږدي

ځکه مې:

د سمندر څنډې ته

عاشقانه منډې ته

دغې دنیا ته مه در بوله

زه در تلای نه شمه

زه یخ وهلی غوریدای نه شمه



۲۰۱۷/۰۵/۱۶
انتالیا
ترکیه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ